**ليکونکي** :ډاکټر پاول کريګ رابرت (DR. Paul  Craig Robert)
**منبع اود خپريدو نيټه :**  (ګلوبال ريسرچ «۲۰۱۶-۴-۸»)
**ژباړونکي** : پوهندوی دوکتور سيد حسام «مل» .

-----------------------------------------------------------

# مارکس او لينن چيری دی کوم چي مونږ ورته اړتيا لرو

where are  Marx  and Lenin when we  Need  Them ?

**مارکس** اولينن دخپل زمانی يا دعصر څخه مخکی پوهان اود اند پيښنی خاوندان وه – مارکس مخکی دسوداګری د بهيرد بی ځا يه کيد و يا د کار اود کسب (مشاغل) د جريان دځای پرځای کيدو په اړه له يو هيواد څخه بل هيواد ته اوداقتصاد دپيما نی اودهغه دنفوذ د نه تمايل په اړين ولیکل . **لينن** دکمونيستی انقلاب پرسرمشری باندی داسی وليکل چی په يوه هيوادکی چی هلته لا تراوسه فيودالی عناصر پر پانګوالی عناصروباندی بر لاسی لری څنګه دتوپک په يوه خيز اوتوپ سره حالات په بل شا ن سره اړوی ؟ اما په دی پوشيتم(۲۱) پيړی کی دامريکی امپرياليزم سرمايه داری دمقرراتو له پلوه په بی قيد وشرط بڼی سره دموکراتيزی شوی او هغه دتولنی په خد مت کی بولی حا ل دا چی نن



مارکس



لينن

همدغه په اصطلاح سره دموکراتيزی شوی سرمايه داری کوم چی دهغه د اند ا زی اود نفوذ دساحی په لوړيدو سره دی پايلی ته رسيد لی چی دهيواد توليدی قدرت دپور اود قرضی دخد ما تو په راکړی ورکړی سره تش کړل شوی دی .
کله چی زه ځوان او ديو ميليون ډالر پانګی څښتن اوم ځان می ډير غنی او بډا ګڼل

اوهر هغه څوک چې دیوملیون ډالر څخه څو میلیون ډالر لرل نو هغه خو لا پسی ځان ډیر معتبر او دولتمند ګڼل امانن داسی خلک وجود لری چې هغه د میلینونو ډالرو خاوندان دی .

هغوی چې نن دڅو ملیاردودالرو پانګی لری ایا هغوی کالی اواجناس تولید کړی اوبیایی هغه خپل کالی یاتولیدات یی پرمشتریانوباندی خرځ کړی اوبیاسرما یه ترلاسه کړی دی؟

نیولیبرالیستی اقتصا دپوها نو هغوی کوم چې نه یواځې په غرب کی داقتصادی پالیسی نسخی ورکوی بلکه هغوی خپل دغه نسخه او**تجویز چین او روسیی** ته هم وړاندی کوی حال داچې دغه نیولیبرالیستی کا رپوهان په نا سم اوغلط بنی سره داسی ادعا کوی چې پیسی پخپله پیسی ګټی چې دا پخپله یوحیرانونکی ادعا دی اوهغه داچې څرنګه کیدای شی چې یوه فیصد سود یا ربح وشی کړلی چې پا نګوال د میلینو نو ډالرو خاوند وګرځوی ؟

واقیعت دادی چې دوی د سیا سیی اړیکو له لاری اود بشپړمحضاً ما لی معا ملا تو له لاری دپانګی خاوندان شوی دی .

یا کله چې شوروی اتحاد د تند رو کمونیستانو دلاس وهنی اود ګارباچف د نیولو اود بندی کولوپه نتیجه کی را ونړیدل - نو هغه وخت په روسیه اودشوروی اتحاد داوکراین په ولایت کی ځنی آړین کسان یودبل سره په ارتباط کی وه اوبیا په ځانګړی ډول هغو کسانو کوم چې د واشنګټن اود اسرایل سره په تماس کی وه وروسته د شوروی اتحاد د نسکورید وڅخه هلته چې څه ما لی منابع او څه دولتی شتمنی وه دهمدغو کسا نو پواسطه سره چور اوچپاول شو.

دامریکی دمتحده ایالاتو بیلونران دامریکی د با نکونو د سخاوتمد ا نه پورونو (قرضه) په رانیول سره دپا نګی څیښتن او دغتو شرکتونوداهرامو په راس کی ځای پر ځای شو، کوم چې بیا هغوی دتولیداتو د ثروت اود ګټی دترلاسه کولو اوهم د متقاعد ینو دمعا شاتو په محدودکولو اوهمدارنګه د شرکتونود نقده پیسو په پوروړکولو سره چې اکثر شرکتونه دبی پانګی کیدو له امله ړنګ اودهغه شرکتونو کارګران خپل دندی دلاسه ورکړل – اما دغه هنر پیشه غله او چپاولګران دډیرو غتو پیسو اودپانګو خاوندان شول – همدارنګه یوه بله لارکوم چې دغه امریکایی بیلونران لا پسی شتمن کړل هغه دبها دا رو اوراقو د مشتقا تو چا پول او عامه خلکو ته دپور یا د قرضی په بنه عرضه کولو وه کوم چې عامه خلک تر غوړو پوری د پورونو په ډ نډ کی ډوب شول .

کلاسیک اقتصاد پوها ن او میخایل هود سن (Michael Hudson) نن دغه لاسته راغلی سود اوګټی د اقتصادی کرایه ورکونو (economic rents) په عنوان باندی سره تعریفوی ، یعنی هغه ډول ګټی او عاید هغه شا ن ته ګټی دی کوم چې هیڅ ضرورت نه لیدل کیږی چې داصلی تولید محصول لوړکړل شی یاداصلی تولید دمحصولاتو د پا ره

اضا فی پا نګونه وشی . یا په بل عبارت سره دغه امریکایی بیلونران دغه ټول پانګی په پرازیتی بڼی سره دکارګرانو په استثمار او زبیښاک سره تر لاسه کړی نه د اصلی محصولاتو دتولید پر بنیاد ، یاداچی دغه شتمنی د پورونو د تولید ا تو له درکه تر لاسه کړی دی .

ننی اقتصادی پانګوالی(اقتصاد های سرمایه داری ) له هغه څه چی کارل **مارکس** ویلی وه په واټنو واټنو څخه لیری او یونا کار آمد ډول اقتصاد دی . په دوه تیرو لسیزو کی غربی اقتصاد یا هغو چی اقتصادی رشته او مزی په لاس کی لری هیڅ چاته هیڅ ډول خدمتونه نه دی تر سره کړی اما دوی پخپله ډیر بډا اوغنی شوی دی اما استثمار شوی خلکو دخپل زبیښاک اودخپل استثمار شکلونه ننداره کړی دی . داسی را ښکاری چی دغرب عمومی خلکو ددغو پانګوالو بردګان اوغلامان شوی دی .

دلته هیڅ یو دلیل یا هیڅ یو نښی اونشانی نه تر سترګو کیږی چی ولی یوسړی بی له دی چی کوم کار اویا فعالیت ترسره کړی وی دومره غټ سرمایه دار شی – مونږ ټول په دی باندی پوهیږو چی پانګه پخپله دسرمایه دار قدرت او واک پورته وړی چی بیا هغه کولای شی چی په سیاسیی بڼی سره پر رای ورکونکو باندی لاس بری پیدا کړی لهذا داسی ویلی شو چی پانګه پخپله وټ ( رای ) دی پیسی دسیا سی کنترول رانیول دی یعنی په پیسو سره سیا سیی کنترول پیرود لی شو چی بیا کولای شو چی د دولت استاذی له مینځه ویسو نو په همدی وجهه دی چی امریکا یی بیلونران لکه شیلډ ون ادلسیون (Sheldon Adelson) جورج سوروس (George Soros) اود کوخ (Koch) ورونه دخپل پیسوپه لرلو سره د امریکی دولت تر خپل کنترول اوولکی لاندی لری کوم چی دولت دهغوی ټول خواستی ترسره کوی اودجمهوری خواهان عالی دیوان ددی پانګوالو دګټو دتامینولو د پا ره را مینځته شوی دی .

په روسیه اوچین کی دما لی ځواک دلوړیدو او دغښتلی کید و په نتیجه کی خصوصی مستقل واکمنی اداری اومرکزونه را مینځته شول لکه چی دامریکی په متحده ایالاتو کی ددولت له کنترول اودولکی څخه په مستقل بڼی سره داسی مرکزونه وجود لری – دغه رامینځته شوی آزاد او مستقل ځواکمن نهادونه داسی ځواک او قدرت تر لاسه کړل چی دولت تر خپل کنترول لاندی ونیسی اویا دخپلو ګټو دتامینولو دپاره ددولت اداره اودهغه کارکونکی پخپل چوپړ کی استخدام کړی نودهمدی دلایلو په نظرکی نیولوسره په روسیه اوچین کی دغه خصوصی سازی آزاد ځواکمن نهادونه دخصوصی پا نګوالو ته چانس ور په برخه کړل چی خپل ګټی تر لاسه کړی لکه هغسی نهادونه کوم چی په اروپا ا و په انګلستان کی تر سترګو کیږی .

**اکسفام** یوه بین المللی خیره موسسه چی دهغه مرکزی دفتر دانګلستان په اکسفورد کی دی پخپل یو ګذارش کی داسی څرګند کړ چی په نړی کی (۶۲) بیلونران دی چی دنټول نړی د نیما یی شتمنی اوثروت پخپل لاس کی لری .

وارن بوفت (Warren Buffet) یو له ډیرو بډا او مګا شتمن میلیا ردر په یوه خبری ناسته کی وویل که چیری دولت یولړ انقلا بی اصلاحی بد لو ن نه وه راوستی نوځما دسکرتر دمالیی کچه به له ما څخه لوړ او پورته وه .

د امریکی دموجوده حالاتو څخه داسی راښکاری چی په ظاهر کی دلته ترحد اقل پوری یو فیصد رای ورکونکی نه تر سترګو کیږی کوم چی هیلیری کلنتون ته (۱۵۳۰۰۰۰۰۰) رای ورکړی او هغه وشی کړای چی ددی رایورکونکوپه استا ذی توب سره دجمهوری ریا ست تر مقا مه پوری ورسیږی یا دهغه دخبرو اودهغه دشها د ت ورکولو لګښت تامین کړی اما یوڅه چی دا ند یښنی وړدی هغه (۹۹) فیصد خلک دی چی پخپل رای ورکولو با ندی خپل ځان تخریبوی اودغه جاه طلب هیلری کلینتون ته رای ورکوی چی دجمهور ریاست پرچوکی باندی ډده ولګوی نو دهمدی اصلو په نظر کی نیولو سره د اچ ال مینکن ( H.L .Mencken) په قول دامریکی زیا تره خلک **کودن** دی .

------------------------------------------ **په سلامونو سره** «۲۰۱۶-۴-۱۲»